AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رڼاګل اریوبزی ۲۰۲۲/۱۲/۱۷

# د کیسو روزنیز ارزښت

وايي چې کيسه په حقيقت کې يوه ليده اوخيالي تاريخچه، نکل، سانه يا افسانه اويا بيان دى چې په کې طبيعي قوانين لغوه شوي دي او تاريخي واقعيتونه ځاى نه لري. مانا داچې په کيسوکې واقعي تيرې شوې پيښې نه بيانيږي او له سره خيالي دي. ځنې کيسې دبشر په تاريخ کې د ډيرو پخوانيو زمانو راهسې په شفاهي ډول له يوه نسل څخه وبل نسل ته سپارل شوې دي او ډير اوږد تاريخ لري، خو- په پښتو ژبه کې د لنډ يو په شان- يې د ويلود قيقه نيټه، ځاى او ويونکۍ او يا بيا نووکۍ مالوم نه دى. دا کيسې دولسي کيسو په نامه ياديږي. ولسي کيسې د کتاب د چاپ ( ټيپ ) هنر نه پخوانى تاريخ لري. خوپه ۱۸م پيړۍ کې دځينو اروپايي هيوادو ليکوالانو او شاعرانو دخپلو هيوادونوولسې کيسې راټولې کړې، ويې ليکلې اود کتابونو په ډول يې خپرې کړې او د همدې ولسي کيسو نه په تقليد يې په خپله هم د کيسو په ايجادولواوليکلولاس پورې کړ. وايې چې داله سره ليکل شوې کيسې د هنري اوايجادي کيسو په نوم ياديږي. دايجادي کيسو ويونکي يا ليکونکي، دليکلو نيټه او حتى ځاى مالوم وى. زموږ په هيواد کې دعلومو اکاډمۍ پخوا نۍ علمي غړې خداى بخښلې کبرا مظهري په ۱۹۸۰يمو کلونو کې په ننګرهار ولايت کې دهغه ځاى دنکل ويونکو له خولې ننګرهارۍ کيسې لومړى په ټيپ ثبت کړې، بيايې په خپل قلم وليکلې او د ( ننګرهارنکلونه ) ترعنوان لاندې يې دعلومو اکاډمۍ له لارې خپرې کړې. داچې په دې برخه کې دهيواد په نورو برخو کې څه نور کار شوى دى او که نه دى شوى، کوم مالومات نه لرم، خو باوري يم چې دهيواد ځوان او تکړه اديبان او ليکوالان به د مو ضوع ارزښت له پامه نه باسي. په لومړي سرکې خو خلک يوازې د کيسو په خوند او ښکلا مين و چې په اوريدو يې په تيره بيا ماشومان له سره نه مړيد ل اوورته په رنګينو خيالونو کې ډوبيد ل. ور پسې د تاريخ په اوږدو کې د کيسوروزنيز ارزښت راښکاره شو. داړوند پوهنيزو څانګو ماهرانو، د پيدا ګوږۍ او اروا پو هنې استادانووښوده چې کيسې د ماشومانو داستعدادونو په وده اوروزنه کې ارزښتناک رول لوبوي. دکيسو په اوريدو او لوستو د ماشومانود لغتو زيرمه پراخيږي اود لوستو مهارت يې وچټيږي ياني د متن دلوستلو او په هغه باندې د پوهيدلو قابليت يې لوړيږي. په ژبه کې ښه مهارت د ښوونځي دزده کړو په بيلابيلوڅانګو کې دښه پرمختګ له پاره بنسټيز شرط دى.

د څانګې ماهران کيسې درښتينولۍ، نيک عمل، په سوله کې ژوند، مينې او عدم تشد د پيغام رسونکې ګڼي. دا پينځه ارزښتونه په حقيت کې اخلاقي ارزښتونه دي. کوچنيانو او ځوان نسل ته د دې ارزښتونو په انتقال کې کيسې ترخوږو مشورو اوځواکمنو نسيتونو اغيزناک او بريالى رول لوبوي ياني هغه څه چې دماشومانو داخلاقي روزنې په برخه کې دکيسو داوريدلو او لوستلو له لارې تر لاسه کيدلى شي دنسيتونو، مشورو اوممانعتونوپه واسطه نه شي تر لاسه کيدلى. په څه ناڅه ټولو کيسو کې د نيکو اوبدويا د نيکيو اوبد يو تر منځ لانجې او مقابلې نغښتې وي. دکيسې قهرمان مهربان، مينه ناک، زړور، صادق، اوهوښياروې او د دې صفتونو په مرسته په پا ى کې په بدو برى ترلاسه کوي او بد يا بدو ته ماته ور کوي. ماشومان د دې قهرمان سره مينه ښيي او په خپلو خيالونو او فکرونو کې دهغه د اخلاقي صفتونو د خپلولو هڅې کوي. دکيسې قهرمان يو دم او په اسانۍ خپلې موخې ته نه رسيږي بلکې په دې لار کې د ډ ول ډ ول لانجو اوربړو سره مخامخ کيږي چې ورڅخه دراوتو له پاره بيلا بيلې لارې چارې لټوي او بيلا بيل ميتودونه کاروي. دا هلې ځلې د ماشوم ذهني اومعنوي ځواکونه راوپښوي، مشغولوي، اوفعالوي. کار پوهان په دې باوردي چې دماشوم د ذهني اوعقلي ځواکونوبيدارول، مشغولول اوفعالول دهغه دعقلي ابتکار او فکري ځيرکتيا

پرمختګ چټکوي، ځيرکتيااوابتکاري ځواک يې پياوړى کوي، په ځان يې باور زياتيږي، د ډار اود بې وسۍ په احساس برى مومي او وجدان يې غښتلى کيږي. نو ځکه تصادفي نه دى چې د کيسو اوريدل او لوستل دښوونځي په زده کړو هم ژورې اغيزې لري. په دې برخه کې د ډ يروعلمي څيړنوهم دا حقيقت څر ګند کړى دى چې کومو کوچنيا نو چې ډيرې کيسې اوريد لې او لوستلې وي، هغه کوچنيان دښوونځي په درسونو کې هم د نورو پر تله غښتلي وي. وينو چې د بشريت په ژوند کې د کيسوارزښت يوازې دهغوى په ښکلا او خوند نه ايساريږي بلکې د ماشومانو اود ځوان نسل د ښوونې او روزنې اغيزناکه وسيله او ارزښتناک ميتود هم ګڼل کيږي. نو ځکه دومسؤليت يوازې دکيسو په ليکلو او ژباړلو پاى ته نه رسيږي، بايد د لوستلو، اورولو اواوريد لوکلتوريې هم پراخ شي تر څود ايسټلي زيار اوزحمت نه عملي ګټه تر لاسه شي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ